مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریبزی
۲۰۲۳/۱۲/۰۱

# د ورډګو د واده دود او بدلې

## نولسمه برخه

په ورډګو او نورو پښتنو کې د ښځې، ناوې او واده ټوټکي یا کرکې:
پخوا چې د پښتنو ژوند پوونده، کوچیاني او لږ استوګن وو، داسې ښکاري چې دوی له سواد، کتاب، ښوونځي او پرمختللي نړۍ څخه لیرې پاته وو، د غرو- رغو په لمنو کې به له خپلو رمو سره لالهانده وو او یا یې ډېر ساده کلیوالي ژوند درلود چې بهرنۍ نړۍ ته یې هېڅ لاره نه درلوده، ساده ژېړېدل، ساده ځوانېدل او همغسې ساده مړه کېدل او خپله نړۍ یې تقریباً په همغه پخوانۍ بڼه او بې له کومه ستره توپیره خپل بل نسل ته پرېښوده او دا لړۍ همغسې روانه وه.
اوس چې موږ د یوویشتمې پیړۍ د نړۍ پرمختګونو ته هېښ پاته یو، ډېرې پښتنانه لا هم په همغه ډېرو بدوي پخوانیو شرایطو کې ژوند کوي، د فکر (اند) ساحه یې ډېره تنګه، د ژوند امکانات یې ډېر محدود او د بدلون روحیه په کې ډېره کمزورې ده. داسې فکر کېږي هغه څه چې موږ ورته پښتونولي یا د یو شمېر حقوقي، تعاملي او جزایي قبیلوي کودونو مجموعه وایو، نسل په نسل لېږدېدلي او له غورنېکه او بابا څخه یې تر لمسي او کړوسي پورې داسې کلکې جرړې زغلولي چې ماتېدنګ یې ناشونې ښکاري او څوک په آسانۍ سره د دې برجورۍ کلا د سحر او افسون له پخو او جګو دیوالونو څخه د وتلو لار نه ویني. زامن او لوڼې د میندو او پلرونو په شان فکر او ژوند کوي، میندې او پلرونه په خپل وخت کې د خپلو میندو او پلرونو په شان لوی شوي، د هغوی په پله یې پل ایښی او د پلار- نیکه له لارې وتنګ یې لویه خطا بللې او هغوی هم د خپلو پخوانو په شان ژوند او فکر کړی او دې لړۍ همدا کړی همداسې مظبوطې ساتلې او پښتونولۍ تر ډېره ځایه بې توپیره پاته شوې او تر موږه پورې رارسېدلې ده.
لکه چې د مخه هم ورته اشاره وشوه موږ د قبیلوي او واړه ذهنیت د کودونو په یوه سرتړلې نړۍ کې ژوند کوو، په دې نړۍ کې هر څه خپل دي او د نوي شي د راتګ مخه نیول کېږي. پښتانه خپله ولسي پوهه لري او د خپلو روایاتو په سیوري کې ژوند کوي. اوس چې په دې کتاب کې د ورډګو او نورو پښتنو د واده په هکله خبرې تر د دې ځایه راوسېدې په کار ده چې په پښتنو کې په هغو شاګومونو (شاګوم- شاګون) ټوټکو یا انګیرونو باندې هم یوه شو چې په ښځه، ناوې او واده پورې اړه لري.
ټوټکې د پښتنو په ولسي روایاتو کې هغه اند دودونه دي چې له یوه نسل څخه بل ته راغلي او یا خلکو عملاً لیدلي او یا اورېدلي دي. ټوټکي په حقیقت کې د هغه ستونزو، کړاونو، ناروغتیاوو او بدو پېښو د مخنیوي لارې چارې دي چې خلک ورسره مخامخ کېدونکي وي. په بله ژبه ډېرې پوونده او کلیوال پښتانه فکر کوي چې که (پلانی) کار وکړي یا ونه کړي، نو له (پلاني) احتمالي ستونزو سره به مخامخ شي یا نه شي. ټوټکي له تجربې سره تړلي دي او کېدای شي چې د (تلقین) ناپېژندلی عنصر هم په کې لاس ولري. په پښتنو کې سپین ږیري او سپین سرې د ټوټکو یا انګیرونو د اند دود پالوونکي او هستوونکي دي او ورو- ورو خپلې دغه تجربې خپل بل نسل ته لېږدوي.
که چېرته موږ د ټوټکو یا انګیرونو منځپانګې ته ښه ځیر شو، نو به وینو چې له موږ نه پخوانیو او د انساني ټولنو لومړنیو اوسېدونکو څه ډول فکر کړی او له ستونزو سره یې څنګه مقابله کړې ده؟ داسې ښکاري چې هغه خلک د طبیعي پېښو، ناپېژندلو ناروغیو او نورو داسې مسایلو سره مخامخ وو چې دوی یې د مخنیوي ډېر وس نه درلود اود ځانونو د اقناع له پاره یې داسې لارې چارې میندلې وي چې له دوی سره به یې د زیانونو یا تکالیفو په مخنیوي کې مرسته کوله. د لمر تودوخه، د سپوږمۍ رڼا، تالنده، برېښنا، زلزله، سیلۍ، سېل، وحشي ځناور، تیاره، دردونه او داسې نور په سلګونه شیان چې دوی ته نوي وو او مخنیوی یې نه شوای کولای؛ ځکه یې د ځانونو د خوشاله ساتلو، اقناع او د ملاتړ د درلودلو په تمه داسې فکر کاوه چې که پلانی کار وکړي یا ونه کړي، دوی ته به ګټه ورسوي. همدې مجموعې ته کرکې، کرنې، انګیرنې، ټوټکي یا شګون وایي.
دلته به هغه ټوټکي راواخلو چې په بېلابېلو پښتني قومونو کې د ښځو، ناویو او واده په برخه کې مروجې دي:

1- په ورډګو او ډېرو نورو پښتنو کې کله چې ناوې نوې د مېړه کور ته ورشي او بیا کله چې نکاح تړل کېږي، د ځوان مور یا کومه بله ډېره خپلوانه په پرله پسې توګه؛ خو پټه بیاتي کړېوي چې کومه بد خواه ښځه زوم او ناوې له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نظره نه کړي او یا کوډې پرې ونه کړي. د سپین سرو ښځو د تجربې له مخې د بیاتي کړپول د بد خواه ښځو د بد نظر یا کوډو مخه نیسي.

2- منګل خپلې نوې ناوې ته تر اوو ورځو پورې ستن او تار په لاس نه ورکوي.

دوی په دې اند دي چې که ناوې په اوو روځو کې کار وکړي، نو ټول ژوند به لالهانده او په عذاب وي او چې ناوې لالهانده او په کړاو وي، نوره کورنۍ هم ورسره په عذاب وي. که چېرته کومه بله ښځه دې ناوې ته ستن او تار ورکړي، کورواله مشرانو ښځې ته یو ډول کرکه پیدا کېږي او له هغه ښځې څخه ګیلې مانې کوي چې د دوی نوې ناوې ته یې ستن او تار ورکړي دي.

3- منګل ناوې ته تر اوو روځو پورې تور لوښی په لاس نه ورکوي په تېره بیا چې ناوې دغه تور لوښی د کورنۍ د غړو تر مینځ تېر کړی. که داسې وشي، د کور مشرانو ښځو ته یو ډول کرکه پیدا کېږي او ویره کوي چې په کورنۍ کې به بیلتون راشي او لارې به سره بېلې شي. دا مشرانې ښځې داسې هم فکر کوي چې که ناوې په لومړیو اوو روځو کې تور لوښي ته لاس وروړي، په زړه کې به یې رخه او توروالی پیدا شي او له نورو ښځو سره به شخړې وکړي او په دې توګه به د ټولې کورنۍ ژوند تریخ شي.

4- منګل ناوۍ ته جورو (جارو) نه ورکوي. لکه چې منګل ناوۍ ته په اوو روځو کې تور لوښي نه ورکوي، همداسې جارو هم نه ورکوي، دا کار کږلی بولي او فکر کوي چې بېوزلي او نیستمن به شي، که چېرته کومه مشره ښځه په اوو روځو کې ناوې د خونو په جارو کولو ووینې، جارو ځنې اخلي او له دې کاره یې اړوي، کله- نا کله کېدای شي چې دا کار قصدي تلقین شي او مشره ښځه په ناوې په غوسه شي.

5- منګل په دې خوشاله کېږي چې ناوې یې په دریو روځو کې په ډېرو خونو ونه ګرځي او یوازې په خپله کوټه کې وخت تېر کړي. دا خلك فکر کوي چې که ناوۍ ژر خونه په خونه وګرځي په ټول ژوند کې به لالهانده وي او دوی به له کړاوونو سره مخامخ کړي.

6- د منګلو ناوۍ تر هغه وخته پورې د خپلو نژدې خپلوانو کورونو ته نه ځي چې هغوی یې ونه بولي. دوی وایي نوې ناوې باید خپل ځان دروند کړي او د خپلو خسرخېلو درنښت ته هم وګوري. کله چې دغسې ناوۍ په مېلمستیا ولاړه شي، کورواله ورته خوندوره ډوډۍ پخوي او د بېرته تګ په وخت کې ورته سوغاتونه هم ورکوي. که چېرته کومه خپلوانه کورنۍ ناوۍ په تش لاس وباسي په خوابښې او خسر یې ډېره بده لګي، دا ځان ته سپکاوي بولي او ښه یې نه انګیري.

7- منګل په ناوۍ له دریو شپو روځو وروسته، د لومړي ځل له پاره سهار مهال په نوي منګي کې له ګودره اوبه راوړي. د سیمې خلك دې منګي ته سور منګی یا ګړی وایي. که د کور کومه ښځه ناوۍ ته زوړ منګی ورکړي، د کاله مشره ښځه پرې په غوسه کېږي او دا د سپېره توب او خوارۍ نښه بولي.

منګلې مشرانې ښځې په دې اند دي چې له نوې ناوې سره ملایکې یا حورې ملګرې وي؛ نو که ناوۍ په سره منګي کې اوبه راوړي، کوراله یې وڅښي او یا ښځې پخلی پرې وکړي، د هغه حورو برکت به په ټول کور کې خور شي چې له نوې ناوې سره ملګرې وي. منګل وایي چې ناوۍ د اوو حورو مرتبه او درجه لري او که له دې سره د نورو حورو ملګرتیا هم په پام کې ونیسو، مرتبه یې ډېره لوړېږي.

8- په منګلو کې د جنۍ مور د واده په روځ خپلې لور ته یو دسمال ورکوي چې هغه د ژړا په وخت کې خپلې اوښکې او یا د ودوزن په نورو سختو شپبو کې خپلې خولې پرې پاکې کړي. داسې ناوې ته بویه چې دا دسمال په خپل سندك کې تر ډېره وخته پورې خوندي وساتي. که فرضاً ناوۍ یا د کور کومه بله ښځه دا دسمال بلې ښځې ته ورکړي، د کاله مشرانو ښځو ته کرکه درېږي او که چېرته په داسې روځو کې کور ته کوم مادي یا معنوي زیان ورسي، دوی یې دهمدې دسمال له وجې بولي او ناوۍ غندي.

9- لکه چې په دې کتاب کې هم ورته اشاره شوې ده، منګل کله چې ناوې کور ته راوړي غنم، مالګه، پیسې او اوبه پرې شیندي، بیا په دروازه کې میخ پرې ټك وهي او بیا یې خپل ځانګړي ځای ته بیایي. منګل په دغه شپبو کې خپل ماشومان د ناوې له سیوري څخه لیرې ساتي او فکر کوي چې له ناوې سره اووه بلاوې (یا شیشکه) جوختې رواني وي او کېدای شي چې دروند سیوری یې په کوم ګلالې ماشوم ولوېږي.

د منګلو د عقیدې له مخې ناوۍ سیوری لري او کېدای شي چې په ماشومانو سربېره په لویانو او حتی څارویو ولوېږي، څاروي ګوډ مات او یا له شودو پاته شي. د زوم د کورنۍ حامله ښځې تر اوو روځو پورې ځانونه د ناوۍ له سیوري څخه ساتي او که چېرته د اولاد د لوېدو وېره او کرکه ورسره پیدا شي؛ نو هڅه کوي چې د ناوۍ د جامو کومه کوچنۍ ټوټه او د سر څو وېښته ومومي. کله چې دا شیان د حامله ښځې په لاس ورغلل، ټوټه او وېښتان په یوه غوټه کې تړي بیا اووه ګامه ورسره په شا له کوره وځي او دا غوټه د هدېرې په کوم زاړه قبر کې ښخوي. دا ښځې په دې توګه ځان ډاډه کوي چې له ناوۍ سره راغلې بلاګانې مې ښخې کړې او بیا نه راوځي.

10- په منګلو کې ځنې ناوۍ د خپل ناوېدود په لومړیو شپو کې د خپل خسر په کور کې وېرېږي. که داسې ناوۍ خپله خوابښې یا د کور بله مشره په موضوع خبره کړي، دا ښځه په کلي کې کور په کور ګرځي او ورته وایي چې ناوې مو په سترګو (نظر) شوې او ډارېږي؛ نو تاسو د خپلو جامو یوه- یوه کمکۍ ټوټه او لږ د سر وېښتان راکړئ چې دود یې کړو. کله چې دا شیان راټول شول د ناوې خوابښې یې اووه ماخوستنه ورته دودوي او د (نظرمات) خبرې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ورته تکراروي، خدایه د تورو سترګو، د شنو سترګو، د سرو سترګو، د خپلوانو د سترګو، د پردیو د سترګو او د هر چا د بدو سترګو یې وساتې.
منګل عقیده لري چې داسې ناوې ورو- ورو ښه کېږي او وېره یې ورکېږي.
11- په منګلو کې ناوې په درېیمه روځ د وړیو کوټې (کوټه- ذخیره) ته ورولي او ورته وایي چې بسم الله کړه او په وړیو لاس ومنډه. دا خلك فکر کوي چې دغسې ناوې به د ډېرو مېږو، پسونو او وړیو څښتنه او شتمنه شي.
12- په منګلو کې که څوك کومه جنۍ خپل زوی- ورور ته په نامه کړي، یا په بله ژبه (خوانی) پرې واچوي او بیا دغه کورنۍ شتمنه شي ټول وایي چې د (پلانۍ) ګوڅۍ په موږ پورې ښه شوه او داسې جنۍ په ښه نامه یادوي.
13- ښځې له بد نظر څخه د خپل ګلالي ماشوم د ساتلو له پاره یا د دوی مخ د نغري په تورکۍ توروي او یا سره ټوپۍ (خولۍ) ور په سر کوي چې د ښځو نظیر (نظر – دید) مخه پرې ونیسي. د منګلو په ځینو سیمو کې ځینې سپین سرې ښځې په دغه سره ټوپۍ سپین کونجکۍ او سدپ (صدف) هم ځړوي.
14- په منګلو کې که په کوم کور کې پرله پسې څو هلکان وزېږي او یا نورې نیکمرغۍ ډېرې شي، د کور مشره ښځه د خلکو د بد نظر د اوښتو له پاره د خپلې دروازې څنګ ته په دیوال خوشایه تپي. دوی عقیده لري چې په داسې مواردو کې د خلك بد نظر په خوشایو لوېږي او دوی خدای ترینه ساتي.
15- په منګلو کې که د کومې ښځې ماشوم نه پاته کېږي او له زېږېدو وروسته ډېر ژر مري زړې ښځې داسې ماشومان په بېړه ملایانو، اخندانو او زیارتونو ته وړي او بندونه ورته اخلي. په منګلو کې که دعاوو او پیرانو هم څه ګټه ونه رسوله، د داسې ماشوم یا ماشومانو پلار په بیړه ورځي او د کلي بډای سړی په یوه پټي کې سورۍ جوړوي او بیا همدا نوی زېږېدلی ماشوم اووه ځلې په بسم الله- بسم الله له همدې سورې څخه وباسي او په دې توګه ځان ډاډه کوي چې که خدای کول دا ماشوم ژوندی پاته کېږي.
ځنې سپین سرې ښځې داسې نه پاېېدونکی ماشوم ته د کلي له اوو کورونو څخه لړ- لړ ټوټې راغونډوي او له دې رنګارنګ ټوټو څخه ماشوم ته کمیس جوړوي او بیا یې وراغوندي او دعا کوي چې لویه خدایه د اوو منګلو او اوو نیازبینو په روی د دې بېوزلې ښځې ماشوم ورلوی کړې.
16- په منګلو کې که د کومې ښځې اولاد نه کېږي، نو زیارت ته ځي، هلته نغري تودوي او زانګو تړي. دا زانګو ډېر وړه وي او د زیارت د قبر خوا ته جوړېږي. داسې ښځې کله نا کله په دې زانګو کې یوه کوچنۍ شګه هم ږدي، که د شګې په اچولو سره زانګو وخوځېده- ښځه خوشاله کېږي او امیدواره کېږي چې که خدای کول اولاد به راوړي.
همدا راز ځنې هغه نجونې چې عمرونه یې پاخه شوي وي او لا یې مېړونه نه وي کړي هم زیارتونه تودوي او هلته زانګووې جوړوي.
17- که په یوه کور (کلا) کې دوه ښځې په نژدې روځو کې ماشومان وزېږوي یا په بله ژبه څلوېښتي یې شریکه وي، هڅه کوي چې ځانونه یو د بل له غږ څخه وساتي. که داسې وشي غږ وهلې ښځې ته کرکه پیدا کېږي چې هسې نه چې ماشوم ته مې کوم زیان ورسي. په دغسې حالاتو کې د کور کومه مشره ښځه د دې دواړو ښځو پوړنۍ سره بدلوي چې زړه بداوی له مینځه لاړ شي.
18- په منګلو کې که چېرته په یوه کلا کې، چې څو کورنۍ په کې اوسي، دوه ښځې وړاندې وروسته ننګې(لنګې) شي او ماشومان وزېږوي، د دوهم کور یوه ښځه پاڅي او د مالګې یوه ټوټه د لومړۍ مېرمنې خولې ته نیسي، هغه لږ لاړې پرې غورځوي او یوه وړه ټوټه یې ځان ته اخلي، بیا دا ښځه خپل کور ته راځي او پاته مالګه د خپلې زچه خولې ته نیسي، هغه هم لاړې پرې غورځوي او لږ مالګه ځان ته اخلي. البته دا ټولې چارې پر دواړو کورنیو کې په پټه خوله تر سره کېږي.
منګل فکر کوي چې په دې توګه به د ښځو څلوېښتي یو په بل نه لوېږي. که چېرته په داسې کلا کې د دوهم کور کومه ښځه بېله مالګې څخه لومړي کور ته ورشي، هغوی ته کرکه پیدا کېږي او وایي چې خپله څلوېښتي یې په موږ راوغورځوله او کېدای شي چې زموږ ماشوم ومري.
19- په منګلو کې که په یوه کلا کې دوه ماشومان وړاندې وروسته وزېږي او یو مړ شي، د ژوندي ماشوم کورنۍ هڅه کوي چې په خپل کور باندې د مړه ماشوم د مور د څلوېښتۍ د لوېدو د ناوړه اغېز مخه ونسي؛ ځکه نو له دوی څخه غواړي چې په مړه ماشوم یوه سپینه ریتاړه (لټاړه) ونیسي او بیا یې په مړستون (قبر) کې ورسره خښه کړي. که داسې وشي د ژوندي ماشوم د کوورواله وو له زړونو څخه کرکه ورکېږي او فکر کوي چې هر څه له مړه ماشوم سره قبر ته لاړل.
20- په منګلو کې کله چې په کوم کور کې هلك پیدا شي، ښځې بدلې پیل کړي او نارینه د خوشالۍ ډزې کوي. په داسې کلي کې که د نوي ماشوم د کورنۍ په نژدې خپلوانو یا کلیوالو کې څوك مړه شوي وي؛ نو ډېر پام کوي چې هغه خلك یې په دې ډزو او بدلو خوابدي نه شي. په ځینو وختونو کې د مړي کورنۍ د دې له پاره چې خپلو- خپلوانو ته د ښادي اجازه ورکړي پخپله راځي او د ماشوم د کور مخې ته د خوشالۍ ډزې کوي او یا بدلې بولي او په دې توګه د ماشوم د کورنۍ خوشالۍ ته لاره پرانیزي.
21- هغه منګلې ښځې چې نوی ماشوم زېږوي، باید ډیوه یا لالټین تر سهاره ځان ته روښانه پرېږدي. په ځینو کورنیو کې دا ډېوه تر څلوېښتو روځو پورې له ماښامه تر سهاره بله وي او فکر کوي چې هغه ماشومان ناروغه کېږي چې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د شپې په تیاره کې ویده کیږي. منګلي ښځې د کوچني ماشوم په زانګو باندې قران عظیم الشان هم ږدي چې پیریان او سوبیان له ماشوم څخه لیرې وساتي.
پښتني د ماشوم له زیږیدو وروسته ژر ځان نه مینځي. ځنې کورنی ځلوېښت روځې خپلې ناوې ته اجازه نه ورکوي چې په ځان اوبه واچوي په داسې کورنیو کې ماشوم هم ژر په اوبو نه وینځي او ورو- ورو یې (مرغونی) کوي.
مرغونې هغه غوړ پتیر خوشته اوړه دي چې مشرانې ښځې یې ورو- ورو په ماشوم پوړې موښي چې مرداره پخه تویې کړي او نوې غوښه واخلي.
22- په منګلو کې ځوانې ښځې خپلو ماشومانو ته سرتور سر تی نه ورکوي او مشرانې ښځې تل خپلو لورانو او نګورانو ته وايي چې تلپك (طفلك) ته په لوڅ سر تی مه ورکوئ، ځکه چې واړه سوبیان او پیریان به په ماشوم سیوری وکړي.
23- منګل میندې او پلرونه د خپلې لور د واده په روځ هغې ته یو ښکلی پوړنی د سوغات په توګه ورکوي او مطلب یې دا وي چې لور یې له خیره په ډېره عزت د خپل مېړه کور ته لاړه شي. د منګلو د اند له مخې ناوی باید دا پوړنی پخپله زوړ کړي او بل چا ته یې ورنه کړي.
که چیرته ناوی په ناپوهی سره دا پوړنی د کلي کومې بلې ښځې ته موقتي یا دايمي ورکړي، د کاله مشره ښځه ورته په غوسه کیږي دا کار ځان ته ښه نه بولي او فکر کوي چې مالي یا ځاني زیان به وومي.
منګل همداسې چې د نوې ناوې پوړنی چا ته نه ورکوي، د زوم د واده لنګی هم چا ته نه ورکوي او زوم یې باید په خپله زړه کړي او یا یې خپل پلار یا ورور ته د سوغات په توګه ورکړ، ؛ خو له کوره د دې لنګی ویستل ښه نه بولي او ځان ته یې کرکه دروي. که دا لنګی له کوره ووته او په کور کې کوم مالي یا ځاني زیان پېښ شو، خلك همدې لنګۍ ته ګوته نیسي.
24- منګلي د دربیمې شپې میاشتې ته نه ګوري او له هغې نه کرکه کوي. دوی داسې انګېري چې د دربیمې شپې میاشتې ته کتل تور تومت (تهمت) لري او سړی باید ځان ترې وساتي.
25- کله چې پسرلی باران اوري، منګلي ښځې خپلو کورونو ته ننوځي او خپل د اوړو هغه کندوان په سوکونو ډبوي چې ژمي څه نا څه تش شوي وي. دوی فکر کوي چې په دې سره به خدای وربښتونه او حاصلات ډېر کړي او خلك به له خواری څخه وژغول شي.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ